مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۱/۰۴/۰۲

# د قافلي امام ته

ای زمونږ د زړه درمـــــانه راشه ،راشه
ته مو تن کي ،روح او ځانه راشه، راشه

په بنو مــــــــــو جارو کړی، درته لاره
بی قرار زړونو آرامــــــــه راشه راشه

څلور لارو د او هامــــــــو کي شو پاتی
ته به هر جا مـــــــــهربانه راشه راشه

بی رهبره بی امــــــــــــامه قافله شوه
د خورو ورو ســــــــاربانه راشه راشه

مصیبت علاج دا ستا پّه لاس کي پروت دی
ای زینـــــــت ددي کاروانه راشه، راشه

د غضـــــب کاني له هر خوا په مونږ اوري
د رحمـــــــــت وریځ او بارانه راشه، راشه

په تدبیر او په ســــــــوچونو ، پوره نشوه
هر مشـــــــــکل مخ ته آسانه راشه، راشه

د نادر سترګي څلور شو ی ســـــتا په لاره
د دردمن زړونو ارمـــــــانه ، راشه راشه

ته امـــــــــــام د قافلی شه ، دي تیارو کي
جهـــــــــالت باندی طوفانه ، راشه راشه

د رحمان بابا په پیروی

۱۳۷۷ کال پیښاور



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ